

مجموعه مقالات سمینار علمی – تحقیقی:

# راه کارهای حفاظت محیط زیست از نظر اسلام

مجموعه مقالات سمینار علمی – تحقیقی: راه کارهای حفاظت محیط زیست از نظر اسلام

۱۳۹۹ هـ.ش



Collection Articles

# Environmental Protection Strategies in Islam

2020

ISBN 978-9936-645-94-3

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**اکادمی علوم**

**معاونیت بخش علوم اسلامی**

**مرکز عقیده و ثقافت**

**مجموعه مقالات سمینار علمی - تحقیقی:**

# راه کارهای حفاظت محیط زیست از نظر اسلام

**۱۳۹۹ هـ ش**

**مشخصات کتاب:**

**نام کتاب:** راه کارهای حفاظت محیط زیست از نظر اسلام

**ادیتور:** سرمحقق سید حبیب شاکر

**اهتمام:** معاون سر محقق اصحاب الدین رحمانی

**کمیسیون علمی ارزیابی مقالات:**

۱- سرمحقق عبدالولی بصیرت

۲- سرمحقق محمد یاسین فرهمند

۳- سرمحقق سید حبیب شاکر

٤- سرمحقق عبدالرئیس الینی

۵- معاون سرمحقق برهان الله نیازی

٦- معاون سرمحقق عبدالوهاب عابد

۷- معاون سرمحقق عبدالکریم فضلی

۸- معاون سرمحقق عبدالرحمن عادل

۹- معاون سرمحقق محمد اعظم طارق

۱۰- محقق نورالله کوثر

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**سال چاپ:** ۱۳۹۹ هـ ش/ ۲۰۲۰ م

**محل چاپ:** الهام نبی زاده، کابل – افغانستان

**تیراژ :** ۵۰۰ جلد

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٤۵-۹٤-۳

**حق طبع برای اکادمی علوم محفوظ است.**

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست مطالب


| عنوان | نویسنده | صفحه |
| --- | --- | --- |
| د ایډیټور نظر........................................................................ | | ۱ |
| پرانستونکې وینا........................................................................ | | ۲ |
| د رئیس جمهور پیغام ........................................................................ | | ٤ |
| پیام ریس ولسی جرگه........................................................................ | | ٦ |
| د سترې محکمې پیغام........................................................................ | | ۹ |
| پیام لوی ثارنوال ........................................................................ | | ۱۰ |
| پیام شاروالی کابل ........................................................................ | | ۱۳ |
| د کابل پوهنتون پیغام ........................................................................ | | ۱٦ |
| نقش مساجد در حفاظت محیط زیست | سرمحقق عبدالولی«بصیرت» | ۲۱ |
| په افغاني چاپیریال د ځینو ناوړو اخلاقو اغېزې | څېړنوال برهان الله (نیازی) | ۳۷ |
| اهمیت فرش نباتی در محیط زیست از دیدگاه اسلام | معاون سرمحقق محمد میا (مرهون) | ۵۱ |
| د انسان په روغتیا باندې د ککړې هوا اغېزې | څېړنوال داکتر میرویس (حقمل) | ٦۵ |
| نقش محیط زیست بر سلامت انسان از منظر اسلام | معاون سرمحقق محمد اعظم طارق) | ۸۹ |
| چاپیریال ساتنه د اسلامي شریعت د مقصد په توگه | څېړنوال عبدالکریم (فضلي) | ۹۹ |
| نقش تعلیم وتربیه در حفاظت محیط زیست | معاون سر محقق عبدالوهاب (عابد) | ۱۱۱ |
| بررسی اهمیت سرسبزی محیط زیست از نظر اسلام | محقق یارمحمد(صمدی) | ۱۲۵ |
| نقش رسانه ها در حفاظت  از محیط | معاون سرمحقق فرزانه حبیبی | ۱٤۷ |

| | | |
|---|---|---|
| زیست | | |
| تأثیرات آلوده گی ناشی از استخراج معادن بالای محیط زیست | نامزد محقق محمد عارف (نیرو) | ۱۶۱ |
| پیامد های آلوده گی آب بر صحت انسان | معاون سرمحقق محمد حسن (ساعی) | ۱۷۳ |
| ناخت و اهمیت حفاظت محیط زیست از دیدگاه اسلام | محقق عبدالناصر(باهر) | ۱۹۳ |
| بررسی ماهیت و اهمیت محیط زیست از دیدگاه اسلام | محقق انجنیر محمد مرتضی شیرزوی) | ۲۰۷ |
| ارزش و اهمیت محیط زیست از دیدگاه اسلام | معاون سرمحقق محمد کبیر (مشفق) | ۲۱۹ |
| رعایت نظافت محیط زیست از دیدگاه اسلام | محقق محسنه(خرم) | ۲۲۷ |
| هدایات محیط زیستی در پرتوی تعالیم والای اسلامی | معاون سرمحقق نصیراحمد (نوربخش) | ۲٤۵ |
| بررسی تأثیر اخلاق اسلامی در حفاظت از محیط زیست | معاون سرمحقق محمد یوسف(حازمی) | ۲۵۷ |
| سیمینار پربکړه لیک ........................................................ | | ۲۷۱ |

# د ایډیټور نظر

الحمدلله رب العلمین و الصلاة و السلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین و بعد:

«په اسلام کې د چاپیریال ساتنې لارې چارې» تر سرلیک لاندې د افغانستان د علومو اکاډمې د اسلامي علومو د څانگې د عقیدې او ثقافت د مرکز په ۱۳۹۸هـ ش کال یو علمي تحقیقي سیمینار درلوده چې دغه کتاب د نوموړي سیمینار د علمي او څېړنیزو مقالو ټولگه ده، ما دغه مقاله یو ځل د سیمینار له تدویر څخه مخکې او څو ځله وروسته تر نظر تیرې کړې، په دغه ټولگه کې د یوې اهمې موضوع په اړه څېړنه شوې ده.

د اسلام له نظره د چاپیریال ساتنې ماهیت، د چاپیریال اړیکې له نظافت سره، په چاپیریال ساتنه کې د ښوونې، روزنې رسنیو او مسجدونو ونډه، د خاورې او هوا ساتنه، د شین چاپیریال ساتنې اهمیت، پرچاپیریال باندې د صنعتي ککړتیا د ناوړه اغیز له کبله د انسان روغتیا ته گواښونه، په چاپیریال ساتنه کې د اسلامي اخلاقو ونډه، په دې اړه د فرد، دولت، او نړیوالې ټولنې مکلفیتونه، په تفصیل سره بیان شوي دي. د دغه اثر چاپ، خپریدل او لوستل د هیواد د هر وگړي شرعي او ملي مسؤلیت بلل کیږي.

زه په خپل وار سره دغه ټولگه علمي او تحقیقي گڼم او د اطلاعاتو او عامه اړیکو له محترم ریاست څخه هیله کوم چې په غوره توگه په زیات شمیر سره یې چاپ کړي.

څېړنپوه سیدحبیب شاکر

# پرانستونکې وینا

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم اما بعد!

**په اسلام کې د چاپیریال ساتنې لارې چارې** علمي څیړنیز سمینار ته له مختلفو رسمي او غیر رسمي ادارو څخه راغلو علماؤ، پوهانو او ټولو ګډون والو سلامونه او نیکې هیلې مې ومنئ تاسو محترمینو ته د زړه له کومي ښه راغلاست وایم،هرکله راشئ.

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

﴿وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا﴾.

ژباړه: الله هغه ذات دی چې بادونه یې زیری رحمت رالیږلي او له اسمانه یې پاکې اوبه را ښکته کړې د دې له پاره چې وچ ښار ورباندې ژوندی کړو، او له ډېرو انسانانو او حیواناتو مو چې پیدا کړي خړوبه کړو.

پورتنی آیت کریمه د چاپیریال عناصر را په ګوته کوي چې دا د الله ج د قدرت مظاهر دي. او انسانان یې باید ساتنه وکړې او چاپیریال ساتنې ته په لاندې آیت کې اشاره ده چې فرمایي: وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا. ژباړه: او په ځمکه کې وروسته له اصلاح نه فساد مه کوي.

د افغانستان هیواد د افغانانو د ژوند چاپیریال دی، همدلته پیدا شوي او لوی شوي دي، د دې هیواد له شتمنیو یې ګټه ترلاسه کړې، نو د ده سالمه ساتنه د هر وګړي فریضه ده، ځکه چې سالم چاپیریال د الله جل جلاله لوی نعمت دی، د ناشکری په صورت کې الله جل جلاله خپل نعمتونو ورکولو ته دوام نه ورکوي. نو په اړه یې فرمایي ﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾.

زموږ د هیواد وګړي چې د اسلام د مقدس دین پیروان دي او د اسلام دین د امن، سولې، پرمختګ، علم او قلم دین دی، انسانان یې له اساسي حقوقو او آزادیو نه برخه من کړي، د سالم او پرمخ‌تللي چاپیریال لرلو او د هغه د ساتنې غوښتنه کوي.

خو زموږ د ګران هیواد چاپیریال له څلورو لسیزو را په دې خوا د تپل شوې جګړې له امله له سترو ناخوالو او تاوانونو سره لاس په ګریوان دی، په فرهنګې ساحه کې مو په ټوله کې د جهالت سلنه زیاته شوې چې د ځینو اشخاصو له خوا بې علمه فتوا ورکول او د ځینو نورو له طرفه په دیني مقدساتو مسخري او استهزا يې بیلګې دي، د ځینوپردې پالو له خوا بې حیایي او عریانې ته د علم او اصلي فرهنګ بڼه ورکول کیږي ، په ټولنیز ډګر کې له بې امني، بې عدالتې او صحرایی محاکمې او بې کاري سره مخ یو، له اقتصادي پلوه هم زموږ  د چاپیریال طبیعي سرچینو لکه ځنګلونو، کانونو، او داسې نورو سرچینو ډیر زیان لیدلی، د وجائبو او مسئولیتونو په سرته رسولو کې هم زموږ چاپیریال ډیر زیات د خرابې خوا ته وړل شوی.

په همدې اساس د علومو اکادمي د اسلامي علومو معاونیت په خپل کلني پلان کې همدغې مهمې موضوع ته لومړیتوب ورکړی او د اکادمي علوم د علمي شوری له خوا تصویب شوی چې دشرعي زده کړو په رڼا کې دغه اړینه موضوع باندې څیړنه وشې، په هیواد کې د سالم چاپیریال په وړاندې ننګونې او موانع په ګوته شي، او د مترقي چاپیریال لرلو لاملونه او لارې چارې روښانه شي؛ تر څو حکومت او ملت ته د سالم چاپیریال ساتنې طرحه او وړاندیزونه ولرو. په پای کې د دې سمینار په دائرولو کې له معنوي همکارانو د مقالو لیکوالان او علمي کمیسون، تدارکاتي کمیسون، او له اداري او امنیتی همکارانو او له ټولو ګډنوالو څخه له وړاندې درناوی او قدردانی کوم.

بااحترام

څېړنوال برهان الله نیازی

د اسلامی علومو په برخه کې د اکادمی علوم مرستیال